د ګړندۍ پروسې (Procedura Accelerata) په اړه معلوماتي ضمیمه

پښتو - PASHTO

ستاسو د نړیوالې خوندیتوب (حمایت) غوښتنه به د یوې **"ګړندۍ پروسې"** له لارې وپېژندل (بررسي) شي. دا پدې مانا ده چې ستاسو غوښتنلیک به ځومره چې ژر کیدی شي وځېرل شي او د رسمي کېدو (Formalizzazione) له نېټې څخه به د دریو میاشتو په ترڅ کې پرې پرېکړه وشي.

ستاسو غوښتنلیک ځکه په ګړندۍ پروسه کې ځېرل کېږي چې د لاندې حالاتو څخه له یوه سره مطابقت لري:

- کله چې تاسو خپله غوښتنه رسمي کړه، داسې مسایل مو مطرح کړل چې د نړیوالې خوندیتوب له پېژندلو سره هېڅ تړاو نلري؛
- تاسو داسې بیانونه ورکړي چې ښکاره تناقض، ابهام، پټه جعلي برخې یا په ځرګنده توګه لږ احتمالي دي، یا ستاسو د اصل (زیږېدو) هېواد په اړه له موجودو معلوماتو سره ښکاره مخالفت لري؛
- که څه هم تاسو د معقول دلیل د ثابتولو امکان درلود، مګر په قصدي توګه مو له امریت (چارواکو) څخه د غلطو معلوماتو یا اسنادو په وړاندې کولو سره، یا د مهمو معلوماتو په ځانګړې توګه ستاسو د هویت او تابعیت پورې اړوند په پټولو سره د تیر ایستلو هڅه کړې، یا مو په بد نیت سره مهم اسناد قصداً له منځه وړي یا پټ کړي دي؛
- تاسو د نړیوالې خوندیتوب غوښتنه یوازې د دې لپاره کړې چې د ایټالیا له خاورې څخه د خپل ایستلو (اخراج) د پرېکړې تطبیق ځنډونی، خنډ کړي یا ودرول شي؛
- تاسو د داسې یوه هېواد څخه راغلي یاست چې د ایټالیا یا اروپایي ټولنې لخوا **"امنه اصلي هېواد"** (Paese di origine sicuro) ګڼل کېږي؛
- موثق دلایل شتون لري چې باور وشي تاسو د ملي امنیت یا عامه نظم لپاره ګواښ یاست، یا تاسو مخکې د ملي امنیت یا عامه نظم د جدي دلایلو له امله اخراج شوي یاست؛
- تاسو بیاځلي غوښتنه (Domanda reiterata) وړاندې کړې چې د منلو وړ ګڼل شوې ده؛
- تاسو په غیر قانوني ډول ایټالیا ته داخل شوي یاست یا مو خپل استوګنځای په غیر قانوني ډول غځولی دی او بې له کوم معقول دلیل څخه، په وخت سره اړوندو چارواکو ته نه یاست حاضر شوي یا مو څومره چې ژر ممکنه وه د نړیوالې خوندیتوب غوښتنه نه ده کړې؛
- تاسو په قانوني توګه ایټالیا ته داخل شوي یاست او بې له کوم معقول دلیل څخه مو په لومړي فرصت کې د نړیوالې خوندیتوب غوښتنه نه ده کړې؛ دا حالت هغه وخت نه پلي کېږي کله چې د نړیوالې خوندیتوب اړتیا ستاسو د اصل هېواد څخه بهر (*Sur place*) رامنځته شوې وي؛
- تاسو د داسې یوه هېواد څخه راغلي یاست چې د اروپایي ټولنې له کچې د یوروسټاټ (Eurostat) د وروستیو کلنیو اوسط معلوماتو له مخې د تثبیت کوونکو چارواکو لخوا د نړیوالې خوندیتوب د منلو فیصدي ۲۰٪ یا له هغه څخه ټیټه ده؛ دا شرط هغه وخت نه پلي کېږي کله چې ستاسو د اصل په هېواد کې د پام وړ بدلون راغلی وي یا تاسو د مشخصو خوندیتوب اړتیاوو لرونکو خلکو په کټګورۍ کې راځئ، چې په لومړۍ او وروستۍ پرېکړه کې شته توپیرونو ته هم پاملرنه کېږي؛

که څه هم ستاسو غوښتنه د ګړندۍ پروسې له لارې ځېرل کېږي، خو ساحوي کمیسیون (Commissione Territoriale) به تل ستاسو د خوندیتوب د ټولو احتمالي اړتیاوو بشپړه بیاکتنه کوي. که کمیسیون دا پرېکړه وکړي چې ستاسو د غوښتنې ارزونه پېچلې ده او ډېر وخت ته اړتیا لري، کولی شي پروسه بدله کړي او ستاسو غوښتنه په **معمولي پروسه** Procedura)

ordinaria) کې پرمخ یوسي، چې د پربکړې لپاره اوږد وخت نیسي (د رسمی کېدو نېټې څخه شپږ میاشتې، په صورت کې د مهلت غځولو لاره خلاصېږي).

که تاسو ځانګړې اداري اړتیاوې لرئ، ساحوي کمیسیون به ستاسو د غوښتنې د پروسې پر مهال تاسو ته مناسب ملاتړ چمتو کړي.

په ځانګړې توګه، دا حالت هغه وخت رامنځته کېدای شي کله چې تاسو په زیان منونکو کټګوریو کې راځئ، لکه د فزیکي یا رواني روغتیا ستونزې لرل، هغه ستونزې چې تاسو پخپله د ټاکل شویو فعالیتونو له تر سره کولو څخه منع کوي، یا/او د معلولیت لرل، د شکنجه کیدو یا اړواړوهنیزو، فزیکي، جنسي یا جنسیت پورې اړوند درنو تاوتریخوالو شاهده کېدل. په داسې حالاتو کې، که ساحوي کمیسیون احساس کړي چې په ګړندۍ پروسه کې تاسو ته لازم ملاتړ نه شي چمتو کېدی، دوی کولی شي پربکړه وکړي چې ستاسو قضیه په معمولي پروسه کې وڅېړي.

که تاسو په پورتنیو کټګوریو کې راځئ، دا خورا مهمه ده چې اړوند امنیتي امریت (عامي خوندیتوب اداري) ته د خپلو ځانګړو اړتیاوو خبر ورکړئ او د غوښتنلیک د رسمي کولو په آنلاین فورمې کې خپله زیان منونه یا ځانګړې اړتیاوې درج کړئ، او له هغې سره اړوند موجود اسناد ضمیمه کړئ. په دې حالاتو کې ساحوي کمیسیون کولی شي ستاسو قضیې ته د عادي پروسې پلي کول ومني او تاسو ته به د غوره شوې پروسې خبر درکړي.

که ساحوي کمیسیون ستاسو د نړیوالي خوندیتوب غوښتنه رد کړي او تاسو په دې باور یاست چې ردول ناسم دي، تاسو حق لرئ چې **مدني محکمې** (Tribunale civile) ته استیناف (Ricorso) وړاندې کړئ.

د استیناف غوښتنې وړاندې کولو لپاره **د وکیل مرسته لازمه ده** او د دولت له لورې د وړیا قانوني مرستې امکان شته. د استیناف شرایط د عادي پروسې په هغه لارښود کتابچې کې تشریح شوي چې له دې ضمیمې سره تاسو ته سپارل شوی دی.

په هر صورت، که ستاسو په قضیه کې ګړندۍ پروسه تطبیق شوې وي، تاسو باید د ساحوي کمیسیون د پربکړې له ترلاسه کولو څخه د **۷ ورځو په ترڅ کې** استیناف غوښتنه درج کړئ.

سربېره پردې، یوازې د استیناف غوښتنې ثبتول تاسو ته په ایټالیا کې د پاتې کېدو حق نه تضمینوي. که تاسو غواړئ د قاضي د پربکړې تر وخته په ایټالیا کې پاتې شئ، تاسو باید په خپل استیناف لیک کې په صریح ډول **په ایټالیا کې د پاتې کېدو اجازه** وغواړئ.

قاضي به د ۱۰ ورځو په ترڅ کې پربکړه وکړي چې ایا تاسو د محکمې د بهیر تر پای پورې په ایټالیا کې د پاتې کېدو حق لرئ که نه. همدارنګه قاضي به ستاسو د نړیوالي خوندیتوب پر غوښتنه د ۴ میاشتو په ترڅ کې وروستۍ پربکړه وکړي.

د دغې پروسې په اړه د ټولو نورو معلوماتو لپاره، تاسو کولی شئ د **عادي پروسې لارښود** (Opuscolo) ته مراجعه وکړئ چې له دې ضمیمې سره یوځای تاسو ته درکړل شوی دی.